د مرګ د انتظار له سلول څخه (مخ ۷)

شلاق ثروت، از برده گی تا سرمایه داری (ص ۸)

# پیشگام

سیاسی -تحلیلی

شمارۀ سوم ★زیر نظر هیئت تحریر★ ثور ۱۴۰۳

# اول می، روز همبستگی کارگران را گرامی میداریم!

کارگران با اتحاد و مبارزۀ شان در اول می، به سرمایه داران مستبد نشان دادند که آنها دارای ظرفیت و قدرت بزرگ و نیروی شکست ناپذیر جامعۀ سرمایه داری هستند. روز اول می، روز دفاع از حقوق وخواست های بحق کارگران در برابر سرمایه و در کل دولت های استثمارگر و طبقات بهره کش است. روز اول می، روز گرامیداشت و تجدید پیمان با خون کارگران جانباخته و سایر زحمتکشان فرودست است؛ اول می یعنی روز تعهد مجدد برای مبارزه، پیگیری و قاطعیت بیشتر طبقۀ کارگر علیه پارازیت های سرمایه و عمال چپاولگر امپریالیزم.

در روز اول می، کارگران در حمایت با سایر طبقات فرودست اعتراضات سراسری علیه چپاول، برده گی، جنگ افروزی، ترور، اختناق، سرکوب، بمباردمان، آواره گی، فقر، فلاکت، بهره کشی، بیکاری و همۀ فجایع و مصیبت هایی که ارمغان جامعۀ سرمایه داری و استثمارگرانه است، به راه می اندازند.

در چنین روز با شکوهی، کارگران و زحمتکشان کشور ما در بند و اسارت بنیادگرایی وتحجر مذهبی قرون وسطایی وحاکمیت عمال استعماری سرمایه داری امپریالیستی چنان خرد و خمیر می شوند، که حتی از ابتدایی ترین



حقوق کارگری شان نیز محروم هستند. کارگران کشور ما ضمن اینکه اجازه تشکل پذیری رسمی ندارند، متاسفانه به گونۀ زیرزمینی نیز از تشکل پذیری لازم برخوردار نیستند.

امارت اسلامی طالبان دشمن کین توز آزادی های پایه یی و دموکراتیک برای کارگران و سایر زحمتکشان هستند. درین میان زنان کارگر و زحمتکش هیچ نوع آزادی ندارند، حتی آزادی کار کردن و گردش آزاد در بیرون از خانه. زنان کارگر و زحمتکش مثل کارگران و سایر زحمتکشان مرد در فقر و رنج بسر می برند و آزادی کار کردن، آزادی تحصیل و آموزش آنان و دختران شان، آزادی اعتراض بر بهره کشی و ستم دولتی و غیر دولتی و فریاد شان برای حقوق اولیه قدغن و ممنوع اعلام شده است. کارگران و زحمتکشان ص۳

# د فلسطین له آزادي غوښتونکي غورځنګ ملاتړ وکړو

د فلسطین ولس څو لسیزې کېږي، چې د اسراییلي فاشیستانو او د لودېځو ستمګرو دولتونو،د ګډو ښکېلاکي موخو له امله وژل کېږي، ربړیږي او د ظلم او ستم تر لاندې ژوند تېروي. لودېځ دولتونه، چې په ټوله مانا له خپل ستراتیژیک ملګري، اسراییل څخه ملاتړ کوي، په دې بېرحمانه جګړه کې د خپلو اقتصادي ګټو په پام کې نیولو سره د زرګونو ماشومانو، مېرمنو او نارینه وو وژل نه یوازې بې ارزښته ګڼي، بلکې د وسلو په پلورلو او له اسراییل څخه په سیاسي ننګې سره له دې خونګړې جګړې څخه هر اړخیزه ملاتړ هم کوي.

که یوې خوا ته لویدیځ ښکېلاکګر دولتونه د اسراییل تر څنګ ودرېدلي دي، له بلې خوا بنسټپال او ارتجاعي دولتونه بیا د فلسطین د بنسټپالو په ملاتړ خپلې اوږدمهالې او ستراتیژیکې موخې تعقیبوي. د دې تر څنګ ډېرې عرب ارتجاعي دولتونه، چې د بېلابېلو لویدیځوالو ښکېلاکګرو د نوکرۍ پرې پر غاړه لري، یا په ښکاره له لویدیځ دولتونو سره ودرېدلي او یا هم په شرمناکې چوپتیا سره دا ظلم او ستم تائیدوي.

خو په دې مینځ کې دریم اړخ، د نړۍ د ولسونو او د ملي دموکراتو هېوادنو، بنسټونو او غورځنګونو اړخ دی. دا اړخ پر فلسطیني پرګنو تېر او اوسنی ظلم او بلوس غندي او د خلکو له ګټو ملاتړ کوي. په غزه کې د اوسني ناورین په غبرګون کې د ډېر شمېر اعتراضونو تر څنګ همدا څو ورځې مخکې د امریکې په متحده ایالتونو کې د کلمبیا پوهنتون محصلینو، چې د فلسطیني وګړو د وژنې او د اسراییل دولت د جنایتونو په وړاندې د اعتراض په نښه د پوهنتون ودانۍ نیولې وې، د دې ملاتړ یو ولسي پرتمینه بېلګه ده. د امریکې د ښکېلاکګر او مستبد دولت ځارندوی، چې د فلسطین د وګړو په ننګه هېڅ ډول مخ۵

# توماج صالحی د آخوندیزم پر ضد فریاد

# د دې آزادي غوښتونکي غږ ملاتړ وکړو!

ښکاره ده چې د اعتراض موسیقي او ترانه هغه خطرناکه وسله ده، چې مستبدین، زورواکي او ستمګران ترې سخت ډارېږي. اعتراضي موسیقي، پارونکې ترانې او د پرګنو د هیلو او آرزوګانو فریاد، غلیمان ویروي. د اعتراض موسیقي، د ولس موسیقي ده. د اعتراض ترانه، د ولس غږ او آواز دی. د همدې لپاره دا اعتراض، دا موسیقي، دا ترانه، دا غږ او آواز ولسونه متحدوي، پاروي، یون او حرکت ته یې رابلي او د مبارزې ډګر ورباندې بهاندوي.

که پرون په لاتیني امریکا کې ویکتور خارا ولسونه په خپل غږ مبارزې ته هڅول او دیکتاتور پینوشې یې غږ وواژه، نن زموږ په ګاونډ ایران کې، خامنه ای دیکتاتور غواړي د توماج صالحي آواز ووژني. توماج صالحي، که د ایراني ولس آواز دی، زموږ ستمځپلي افغانان هم له یاده نباسي او درد او رېړه یې فریادوي او د استبداد پر ضد یووالي ته یې رابلي.

توماج صالحي د هنر یوه وسله وال دی، یو چریک او یو پوځي دی. توري، کلیمې، قافیې، ردیفونه، آواز، موسیقي، آهنګ، ترانه د هغه وسله ده. هغه دا وسله په پرتمین ډول کاروي، پر دې وسلې مین دی او حرمت او ویاړ یې ساتي. نو د همدې لپاره د اخوندي رژیم د زندانونو د تورو تمبو شاته د اعدام شېبې شمېري.

صالحي، یو اتل دی. د ایران د ولس اتل او زموږ د ولس یو خواخوږی. هغه په داسې حال کې زموږ د ولس د آزادۍ، برابرۍ او ویاړ هیله کوي، چې له بده مرغه ډېرې ایرانیان په فاشیستي اند او لیدلوري سره افغانانو ته په سپکه سترګه ګوري او سپکاوی یې کوي او یو شمېر افغان ترانه ویونکي غواړي په ترانو سره توکمیز نفاق او کرکې ته لمن ووهي.

د ولس آواز برید نه پېژني، پوله او هېواد نه پېژني، شعار یې ورورلي او انسانیت دی. که صالحي په ایران کې د اسلامي جمهوریت آخوندي رژیم په وړاندې د خپل ولس او وګړو له شرافت ملاتړ کوي او د دې ملاتړ او ننګې لپاره په خپلو ترانو کې د خپل اعدامېدلو وړاند وینه کوي، پر افغانانو هم غږ کوي چې سپکاوی مه منئ، په آزادۍ کې مړه شئ. «نړۍ» ته په تمه مه اوسئ، «نړۍ» ستاسې په وړاندې ودرېدلې، تاسې د آزادۍ په لاره کې یوازې یاست، چې مه پاتې کېږئ، مه ډارېږئ، وجنګېږئ او په آزادۍ کې مړه شئ. که توماج له یوې خوا د خپل فاشیست حکومت په وړاندې غږ پورته کوي، چې جابر حاکم به محاکمه کړو او د خپلو هغو هېوادوالو په وینو، چې د ایران آخوندی او ملایي رژیم تویې کړي، قسم خوري چې دا وینې به بې قصاصه او بې انتقامه پاتې نشي او د ولس له غچ به هېڅ قاتل ونتښتېدلی شي، همدا ډول د افغانستان وګړو ته پیام ورکوي، چې طالب د ایران د آخوندي رژیم مزدورګی دی او د خلاصون لاره په اتحاد او پیوستون کې ده. هغه د ایران زیارکښه او ستمځپلي وګړي د افغانستان د ستمځپلو انسانانو ورونه ګڼي او په دې ډول د یو ګډ او مشترک درد آواز پورته کوي، هغه په داسې حال کې دا آواز جګوي، چې زموږ په هېواد کې د «شفق سیاه پوش» په شان شوراي نظاري او جهادي ترانه ویونکي، ټول پښتون ملیت ته د «قبیله وحشت» ترانه وایي.

د توماج صالحي روښانپاله لید، روښانګرانه غږ او پارونکې او متحدونکې ترانې او د انسانیت په شعار سمبالې سندرې، هغه څه دي چې د ایران آخوندان یې په دار اچولې او هغه یې د همدې لپاره په اعدام محکوم کړی دی. توماج صالحي له اعدامېدلو څخه کوم ډار نلري، هغه وړاندې له دې په خپلې ترانې «طناب دار» کې په روښانه پیام ورکړی دی: که غږ می غلی هم کړی بې فایدې دی، زه د یوه



باشرفه زمري په شان مرم، نه تسلیمېږم، د دار پړی خکلوم او له ویاړ سره یې په غېږه کې نیسم.

د دې آزادي غوښتونکي مبارز سندرغاړي د اعدام حکم صادرول، د ایران د آخوندي رژیم د فاشیستي کړنو تداوم او د یو توتالیتر مذهبي دولت منځپانګه او ماهیت لا په ښه توګه بربنډوي. فاشیستان کولای شي صالحي اعدام کړي، خو څنګه چې هغه په خپله وایي، چې میلیونونه بذرونه پاشل شوي دي، چې هر یو د خپل رول لوبولو په انتظار دي، نو بې له شکه دا میلیونه بذرونه به سبا په هغه توفان بدلېږي، چې د ولس د ښېرازۍ او هوساینې او خلاصون په پار به د آخوندیزم مانۍ ړنګوي.

د صالحي تر څنګ ودرېدل او د هغه د ژوند لپاره غږ پورته کول د انسانیت تر څنګ ودرېدل او د انسانیت لپاره غږ پورته کول دي.

**که غږ می غلی هم کړئ بې فایدې دی، زه د یوه باشرفه زمري په شان مرم، نه تسلیمېږم، د دار پړی خکلوم او له ویاړ سره یې په غېږه کې نیسم.**

# اول می، روز همبستگی...

در کل، و بخصوص کارگران و زحمتکشان زن همه روزه مورد پیگرد، توهین و تحقیر قرار می گیرند و ربودن استخباراتی آنان، اسارت، شلاق و سنگسار و محاکمات صحرایی زنان کشور ما جنایتی است که هر روز شاهد آن هستیم.

زنان کارگر و زحمتکش، که نیمی از پیکر جامعه ما را می سازند، از تمام حقوق انسانی، اجتماعی، سیاسی و فرهنگی محروم شده اند و مورد بدترین برخورد غیر انسانی طالبان قرار گرفته اند. طالبان میراث داران واقعی جهادی ها در ضدیت با زن و بخصوص زنان کارگر و زحمتکش کشور ما هستند. امروز اگر جهادی ها اکت و ادای حقوق زن درمی آورند، همه برای فریب مردم است؛ ورنه همین جرثومه های کثیف که اسلاف طالبان جنایتکار هستند، مثل طالبان با زنان با هیستری بنیادگرایانه برخورد می کردند.

بیش از چهل دهه جنایت و کشتار در کشور ما اکنون به مردم، یعنی کارگران، دهقانان و سایر زحمتکشان مثل مامورین، اهل کسبه، روشنفکران آزاده و.... آشکار ساخته که با خزیدن در آغوش یک جنایتکار بزک شده نمی توان از زجر و ستم جنایتکار دیگر رهایی یافت. مردم ما به خوبی می دانند که نه امپریالیست های اشغالگر ناجی زحمتکشان شده می توانند و نه هم عمال زرخرید بنیادگرای شان، چه «دموکرات» باشند، چه بنیادگرا و چه هم تکنوکرات.

کلید رهایی مردم فقط در آگاهی بیشتر برای انسجام، همبستگی و مبارزهٔ مشترک است. وظیفهٔ روشنفکران متعهد و آگاه اینست که برای پیشبرد این ماموریت بزرگ رهایی بخش گام بردارند، از کوچکترین گام می توان آغاز کرد و آهسته آهسته با استحکام بیشتر بر این راه گام های بیشتر نهاد. هر روشنفکر و روشنگر آگاه، متعهد و مدافع منافع مردم، هر آن چه که در توان دارد می تواند برای تقویت بیشتر مبارزه رهایی بخش مایه بگذارد. امروز هیچ چیز دیگر به اندازهٔ یک قدم برداشتن برای رهایی از ستم و جباریت ارزش ندارد، بیائید همین امروز این قدم را برداریم و هر کس نقش خود را طبق استعداد و توانایی مان ایفأ کنیم.








# «... و آفتاب نمی میرد»؛ ای کاش نمی‌مرد!

در مورد جایگاه شعر در تحولات سیاسی ـ اجتماعی بدون شک تا حدودی آگاه هستیم. همین جایگاه است که مقام شاعر و مسئولیت او را در برابر تحولات سیاسی و اجتماعی تعیین می‌کند. شاعر یا در کنار ستمگران و قاتلان قرار می‌گیرد و یا در مخالفت عریان و برنده علیه آدمکشان و ظالمان. شاعری که در برابر جنون ستم خاموش بماند، شاعر مردم نیست و شاعری که بدتر از آن در کنار ستمگران قرار بگیرد، شاعر قاتلان و جانیان است.

قرار گرفتن شاعر در جبهۀ مردم، الزاماً به معنی پیوستن او به یک تشکل سیاسی و تعلق حزبی نیست. شاعران فراوانی داریم و داشته‌ایم که بدون وابستگی‌های تشکیلاتی با خنجر بران شعر به مصاف ستمگران رفته اند و می‌روند، که حقا نقش ارزنده ایفا کرده و می‌کنند. درین میان شاعرانی هم بوده اند که زمانی با سلاح شعرشان رزمیده اند، اما لحظه‌ای هم فرا رسیده که خسته شده و به قول برشت پیام داده اند: «مدتی دراز جنگیدم، اما حال، دیگر نمی‌توانم»؛ اما در خطاب به چنین شاعرانی باید با برشت همنوا شویم: «تو خواه خطاکار باشی یا نه/ هنگامی که دیگر نمی‌توانی بجنگی نابود خواهی شد.»

یکی از شاعران ما که با دریغ و درد نابود شد، واصف باختری است. ضمن تسلیت به خانوادۀ او، نمی‌توان از کنار واصف با بی‌مسئولیتی گذشت، زیرا «شبح» او چنان تخدیرکننده و محسورکننده تشریف فرماست، که حتی شماری از روشنفکران پیشرو و پیشگام را نیز می‌خواباند. واصف باختری، بدون شک افتخار و پیشتاز بود؛ زمانی که با شعر و حرف و کلمه‌اش در دفاع از تهیدست‌ترین مردم کشور قرار داشت و باچراغ روشنایی به جنگ تیرگی می‌رفت. اما سهمگینانه باید گفت که با تعطیل جنگ علیه تیرگی بود که او خود، نه تنها خود را نابود کرد، بلکه در دست‌های نیروهای مرتجع، قاتلان و شکنجه‌گران چون موم قرار گرفت.

اعتراض ما بر واصف باختری، نه بخاطر بریدن از مبارزه سازمانی و حزبی است و نه برای سکوت ممتد و نه هم برای یأس و نومیدی‌اش. او به مثابه یک انسان حق داشت، چنانچه داوطلبانه تعلق تشکیلاتی را پذیرفته بود، از آن ببرد، او حق داشت سکوت کند و حتی حق داشت به گوشۀ یأس و نومیدی بخزد؛ با وجودی که سکوت و یاس و نومیدی، شایستۀ نه نویسندۀ بزرگ است و نه شاعری که آفتابش نمی‌میرد!

ای کاش، واصف پس از آن شعرهای ستیزگرانه و عشق به پیکار رهایی‌بخش، در بدترین حالت‌اش سکوت می‌کرد و کنار می‌کشید. اما او سکوت نکرد، کنار نرفت، فقط جبهه عوض کرد. او متأسفانه از مبارزه و پیکار به سود تهیدست ترین‌ها و از سرودن شعر برای رهایی و نجات ستمدیدگان کشور کنار کشید و زیر سایۀ دژخیمان مردم قدم زد. این است کنه سخن ما با واصف!

واصف، پس از رهایی از زندان در حالی که ده‌ها شاعر دیگر به جرم فکر، شعر و سرودن به رگبار بسته شدند، در پولیگون‌ها سر به نیست شدند و در کوته قلفی‌ها جوانی‌های شان را فنا دادند، در کنار رژیمی قرار گرفت که این جان‌های شیرین را نابود و هزاران انسان را به جرم آزادگی کشت. او نه تنها به پاس این خون‌ها سکوت نکرد، که ای کاش می‌کرد، بل زیر علم خونین جلادان پرچمی سخن گفت و شعر سرود و تقریظ نگاشت و کتاب عرضه کرد. چه فرق ماهوی درین مورد بین سلیمان لایق و واصف باختری است؟!

واصف سکوت کرد. واصف در قبال خون روشنفکران پیشرو که او زمانی یکی از رهبرانش بود، سکوت کرد، این فاجعه برای یک شاعر مطرح و نویسندۀ بزرگ چیز کمی نیست. اما واصف سکوت نکرد، او از «خادم دین رسول‌الله» گرفته تا زیر سایۀ جنایتکاران پرچمی و قاتلان اخوانی قدم زد و انرژی گذاشت.

اعتراض ما بر واصف باختری حتی برای تعطیل مبارزه‌اش علیه ستمگران نیست، بلکه اعتراض ما برای همراهی او با ستمگران است. کوچکترین انتظاری که ازین نویسندۀ بزرگ و شاعر مطرح داشتیم، ننگین خواندن همراهی با ستمگران و جنایتکاران بود، اما او چنین نکرد. او به جای روشنگری برای مردم، به تطهیر «خادم دین رسول‌الله» پرداخت، بگذریم از اینکه سکوت‌اش در برابر شخص ارتجاعی مثل خلیل‌الله خلیلی مدیحه سرای دیکتاتور فاشیست پاکستان، به نوبۀ خود شایستۀ او نبود. کوچکترین انتظاری که از واصف داشتیم پیام او به نسل جدید مبنی بر افشای حاکمیت طالبی از نوع حبیب‌الله کلکانی (خادم دین رسول‌الله) بود، اما او به عوض در مقدمه بر «عیاری از خراسان» خلیل‌الله خلیلی بر پیکر پوسیدۀ این ملا هبت‌الله صد سال پیش، چنین اشک ترحم ریخت: «من همواره از خود و دیگران پرسیده ام که آن گناه نابخشودنی حبیب الله کلکانی چی خواهد بود که باید این همه ملامت شود و شماتت بکشد». چه فرقی است میان باری جهانی و واصف باختری، اگر باری جهانی بگوید که «من همواره از خود و دیگران پرسیده ام که آن گناه نابخشوانی ملاعمر چی خواهد بود که باید این همه ملامت شود و شماتت بکشد»؟ چرا باید حق داشته باشیم باری جهانی را برای چنین عبارتی طالب بخوانیم، ولی واصف باختری را «...آفتابی که نمی میرد»؟!

اعتراض ما بر واصف باختری برای بریدن از سیاست و مبارزۀ پیشرو نیست، بلکه برای کنار آمدن با سیاست جنایتکارانه است. چنانچه گفته شد، او می‌توانست پس از رهایی از زندان، نه مبارزه کند و نه به سیاست مترقی کاری داشته باشد، ولی حداقل به پاس شاعران رزمندۀ شهید و هزاران انسان بی‌گناه که ص٦

**آفتابی که نتوانست با نور اش جنایت‌های حزب دموکراتیک خلق را افشا کند، و به عوض به تن‌های فرسودۀ جنایتکاران خادی گرما بخشید؛ وقتی نتوانست تیرگی جهادی را بسوزاند، بلکه خود سایه شد؛ وقتی نتوانست علیه کشتار بیست ساله استعمارگران خارجی خشم مردم را شعله‌ور سازد، بلکه به مستی «دختر»ش در خاکستر اجساد توده‌ها راضی شد؛ وقتی نتوانست بر خرمن جنایت‌های فاشیست‌های دینی از جنس طالب و غیر طالب جرقه شود و سرد و کرخت باقی ماند؛ با دریغ و درد باید گفت که دوستان، آفتاب تان مدت‌ها قبل مرده بود!**


# د فلسطین له آزادي غوښتونکي...

اعتراض او فریاد زغملی نشي، پر دې پوهنتون برید ویوړ چې د فلسطین په ملاتړ د اعتراض کمپونه له مینځه ویسي. د پولیسو دا کرغیړن چلند دونالد ترامپ، د امریکې متحده ایالتونو پخوانی ولسمشر او د راتلونکو ټاکنو نوماند، یو «ښکلی» حرکت وګڼو او معترضان یې «قهرجن لیوني او د حماس خواخوږي» ونومول. دا چټلې څرګندونې د دې تر څنګ چې د فلسطیني وګړو له وژنې څخه د ملاتړ مانا لري، په ورته وخت کې د امریکې د پانګوالي دموکراسۍ کاذبانه څېره هم په ښه توګه بربنډوي.

له فلسطیني وګړو څخه ملاتړ او دفاع، په هېڅ توګه د بنسټپالانو څخه د دفاع او ملاتړ مانا نلري. بنسټپالان هڅه کوي فلسطیني وګړي د خپلو بنسټپالو موخو لپاره برمته کړي، چې دا په هېڅ ډول د فلسطینیانو آزادۍ غوښتونکی غورځنګ او مبارزه پیکه کولای نشي. د نړۍ ټول با وجدانه، آزادي غوښتونکي او د انسانیت پلویان دنده لري، چې د فلسطیني وګړو او پرګنو تر څنګ ودرېږي.

د دې تر څنګ چې د فلسطینانو تر څنګ ودرېږو او له مبارزې یې ملاتړ کوو، باید له یاده ونباسو، چې په هېڅ ډول بنسټپالانو ته مشروعیت ورنکړو. د فلسطین د خلکو مبارزه هغه وخت پایلو ته رسېږي، چې له بنسټپالی مکروب او جراثیم څخه پاستوریزه شي. بنسټپالانو ښودلې چې څنګه آزادي بخښوونکي غورځنګونه د ښکېلاکرو په ګټه او نفعه قرباني کړي. زموږ هېواد یې یوه ښه بېلګه ده: جهادي بنسټپالانو په مرییتوب سره د شوروي اتحاد د یرغل په وړاندې د افغانانو آزادي بخښوونکی غورځنګ او جګړه د امریکې په «پروژې» بدله کړه، چې پایلې مو ورته ولېدلې او همدا بنسټپالان بیا په تېر شل کلن نیواک کې د امریکې د لاسپوڅي دولت برخه وه. همدا ډول د شل کلن اشغال په وړاندې، امریکې د تېرو تجاربو په لړلو سره د «مقاومت»پروژه بیا هم د بنسټپالانو بلې برخې (طالبانو) ته وسپارله، چې بالاخره یې د دوحې قراردادیان د ستمګرۍ د لړۍ د غزولو لپاره د افغانانو پر اوږو د دویم ځل لپاره سپاره کړل.

د تېرو تجاربو او د اوسنۍ پېر په پام کې نېولو سره، اړینه ده چې هر ډول آزادي بخښوونکی غورځنګ له دموکراتیکو ارزښتونو سره مل وي. تاریخ ښودلې، چې بنسټپالان په هېڅ توګه ولسونو ته آزادي نشي ورکولی.د دې لپاره ښایي د نړۍ ټول دموکرات او آزادي غوښتونکي ځواکونه او افراد په فلسطین کې د بنسټپالانو پر ځای د دموکراتو او سکیولارو ځواکونو څخه ننګه او ملاتړ وکړي؛ دا د فلسطیني ربړېدلي ولس سره د پیوستون تر تر ټولو ارزښتناک قدم ګڼل کېږي.



# «... و آفتاب نمی میرد...»

در حاکمیت جنایتکاران «حزب دموکراتیک» کشته شدند، بر خون این جانباختگان با فرهنگیان آن رژیم جنایتکار راه نرود. اما با دریغ او با بی‌مهری تمام بر این خون‌ها راه رفت. او در کنار قاتلان این رزمندگان در «کمیته ملی جبهه پدر وطن» ببرک کارمل و «اتحادیه نویسندگان و شاعران افغانستان» رژیم ستمگر، عضو شد. واصف تنها از سیاست مردمی برید، ولی متأسفانه با سیاست جنایتکارانهٔ پرچمی همکلام شد و همین بود که کودتای ننگین ثور را که خون هزاران روشنفکر، به شمول شاعران و نویسندگان را به زمین ریختاند، «انقلاب شکوهمند» خواند و به پای تجلیل آن در «حقیقت انقلاب ثور» (ارگان کمیته مرکزی حزب دموکراتیک خلق افغانستان) منتشره ۱۳۶۲ نشست: «به پنداشت من روزنامه گرامی حقیقت انقلاب ثور همواره توانسته است ارزش های انقلاب شکوهمند ثور به ویژه مرحله نوین و تکاملی آن را به شایستگی تحلیل و تعلیل کند و توده‌های وسیع مردم را به همراهی و همسویی با خواست‌های انقلاب فرا خواند.»

اعتراض ما بر واصف کاش تا اینجا باقی می‌ماند و با تمام دردناکی، این‌ها را تلاشی برای «حفظ جان» می‌خواندیم، که باز هم برای یک نویسندهٔ بزرگ و دارندهٔ لقب «... و آفتاب نمی میرد» که اکنون به یادش «ویژه نامه»ها منتشر می‌شود و از چپ و راست برایش پیام گرامی‌داشت تقدیم می‌گردد، خود یک عیب جدی است. در همین افغانستان شاعران توانا، زبده و مبارزی داشتیم که تا پای مرگ جانانه رفتند و مثل آفتاب غروب کردند تا فردا طلیعهٔ آزادی را روشنتر در سرزمین ما بگسترانند.


ای کاش واصف باختری، همراهی با جنایتکاران را تا اینجا ادامه می‌داد و از قطار ننگین آنان پیاده می‌شد. اما او به مجرد پیاده شدن از قطارِ «انقلاب شکوهمند ثور» سوار قطار دولت اسلامی اخوانی‌ها شد. واصف باختری که اخوانی‌ها را به خوبی می‌شناخت و با وجودی که می‌دانست احمدشاه مسعود قاتل تعداد زیادی از روشنفکران پیشرو در «چاه آهو» است، به جای اعتراض (حتی به گونهٔ سکوت)، در «انجمن نویسندگان» او به کار ادامه داد.

پویا فارابی، در «گزارشی از برخی دیدارهای من با احمدشاه معسود» نوشته است: «... واصف باختری نیز با بیان چند جملهٔ مختصر، اما محکم و صریح، در کنار من ایستاد. مسعود رو به داکتر عبدالرحمان کرده پرسید: «خودت چه نظر داری؟» داکتر نیز با من و باختری هم نظر شد. مسعود گفت: «درست است. همین انجمن فعلی باشد. کارها و پروگرام های خود را تنظیم کند. اگر مشکلی پیش آمد، ما را در جریان بگذارید، کمک خواهم کرد.» واصف با این «انجمن»بازی اکتفا نمی‌کند و چنانچه که مهران موحد در حساب فیس بوک‌اش می‌نویسد با حیدری وجودی به دیدار احمدشاه مسعود می‌رود. مهران موحد می‌نویسد که «مرحوم حیدری وجودی قصه می کرد که باری با واصف باختری به دیدار مسعود در جبل السراج رفته بودند. واصف باختری خطاب به مسعود گفته بود: «ما شما را به عنوان رهبر و کلان خود، از صمیم قلب، قبول داریم. اما حرف ها و نظراتی هست که باید با شما به صراحت در میان بگذاریم.» این دیدار واصف باختری و احمدشاه مسعود را لطیف پدرام نیز در حساب فیس بوک‌اش این گونه تأیید می‌کند: «دیدار استاد واصف باختری با قهرمان ملی خود ماجرایی است در خور یادآوری، اما حالا بماند؛ شاید اشاره ی استاد حیدری وجودی مرحوم به آن دیدار و دیدارها باشد.» و سالار عزیز پور نیز در «پسا از باختری» بخش دوم، منتشره جولای ۲۰۱۱ ضمن اینکه اشاره می‌کند که واصف باختری را همه دوست داشتند، می‌نویسد: «احمد شاه مسعود او را در راس شورای فرهنگی اداره کننده وزارت فرهنگ می گماشت ــ که از سوی وزیر فرهنگ وقت صدیق چکری رد شد.» چه فرقی است میان رفتن واصف باختری به درگاه احمدشاه مسعود و قبول رهبری او از صمیم قلب توسط او و رفتن احتمالی پیرمحمد کاروان با آن سواد نازل سیاسی‌اش به درگاه گلبدین؟!

اعتراض ما دقیقاً بر این مومیایی شدن واصف باختری در دستان جلادان، جنایتکاران و ستمگران است. اکثریت مطلق خادیست‌های دیروز و تعداد درشت جهادی‌ها واصف را دوست دارند، بگذریم از اینکه شماری از روشنفکران، بنابر تعلقات زبانی، ملیتی و رفاقت‌های شخصی به واصف ارج می‌گذارند. این دوست داشتن واصف توسط ستمگران خادیست و جهادی و فرهنگیان و نویسندگان و روشنفکران طرفدار اشغال بیست سالهٔ کشور ما به وسیلهٔ نیروهای خارجی برای چه و چگونه است؟ اگر شعر واصف باختری خنجر برنده‌ای می‌بود که قلب دشمنان خادی، جهادی، طالب و ستمگران خارجی را می‌شکافت، امروز در مدح او نه «هشت صبح» «ویژه نامه» منتشر می‌کرد و نه هیچ خانه و مانهٔ سرکاری و استخباراتی برایش یادبود می‌گذاشت.

چرا حتی پس از مرگ بر واصف اعتراض داریم؟ اعتراض ما بر واصف باختری، اعتراض بر روشنفکرانی است که ادعای روشنگری دارند، ولی از روی رفاقت‌های شخصی و یا هم بنابر تعلقات زبانی و قومی بدون پرداختن به کارنامه‌های درست و نادرست واصف، او را «آفتاب»ی می‌سازند که «نمی میرد» و این گونه با ترویج فرهنگ ارتجاعی مخدوش ساختن مرز میان منافع مردم و منافع دشمنان مردم؛ عملاً به تداوم ستم کمک می‌کنند. اگر روشنفکر ما بدون آگاه ساختن مردم از کارنامه‌های ارتجاعی واصف (همکاری با ستمگران کشور ما)، یکسره او را «آفتاب» مردم بخواند؛ مردم را در تشخیص دشمنان خود گمراه می‌سازد، بخصوص وقتی می‌بینند که «آفتابِ» روشنفکر ما بیشتر از اینکه بر بام مردم تابیده باشد، خانه‌های تاریک دشمنان مردم را روشن نگهداشته است.

آفتابی که نتوانست با نور اش جنایت‌های حزب دموکراتیک خلق را افشا کند، و به عوض به تن‌های فرسودهٔ جنایتکاران خادی گرما بخشید؛ وقتی نتوانست تیرگی جهادی را بسوزاند، بلکه خود سایه شد؛ وقتی نتوانست علیه کشتار بیست ساله استعمارگران خارجی خشم مردم را شعله‌ور سازد، بلکه به مستی «دختر»ش در خاکستر اجساد توده‌ها راضی شد؛ وقتی نتوانست بر خرمن جنایت‌های فاشیست‌های دینی از جنس طالب و غیر طالب جرقه شود و سرد و کرخت باقی ماند؛ با دریغ و درد باید گفت که دوستان، آفتاب تان مدت‌ها قبل مرده بود!



**شعر هغه تالار نه دی**

**چې په کې شتمن، مفتخواره**

**د قړتو پرتو لپاره راټول شي**

**شعر ډېر ستر دی**

**د ټولو نیکمرغو، بدمرغو په مخ**

**د ټولو هغو په مخ چې د ویلو هوډ یې لري**

**یو شان پرانیستی کور دی**

شاندور پتوفی

# کارگران افغانستان و زندگی....

بگذریم از اینکه سطح کارگران بیکار بیش از پیش افزایش یافته است و این خود سطح استثمار طبقه کارگر را بالا برده است. در حال حاضر کارگران کشور ما، ارزان ترین نیروی کار در کشورهای منطقه به شمار می رود.

کارگران و زحمتکشان کشور ما چندین دهه است که در چنگال خونین عفریت ها و دیوهای خونخوار قرار دارند. این دیوهای خون آشام، جز فلاکت و دربدری و بدبختی به کارگران و زحمتکشان چیزی دیگر اعطا نکرده اند، که کرده هم نمی توانند. عفریت طالب، ادامهٔ عفریت جهادی و دولت پوشالی است و این دایرهٔ خبیثهٔ ستم، سال هاست که زندگی کارگران و زحمتکشان کشور ما را جهنمی ساخته است. ماهیت مجاهد کراسی و ملاکراسی جز ضدیت با زحمتکشان و زندگی شرافتمندانه آنان چیز دیگر نیست، چنانچه ستمگران خارجی هم ماهیت جهادی ها و طالب ها بودند و هستند. بیجا نیست که حاکمان فاشیست کنونی بر راهی می روند که قبل از آنان، جهادی ها و ستمگران خارجی رفته اند و در آینده هم خواهند رفت.

جامعه ما بطور کل به دو قطب تقسیم شده است: قطب اکثریتِ زحمتکشان (کارگران، دهقانان، اهل کسبه و سایر فرودستان) و قطب اقلیت چپاولگران، انگلی ها و قاتلان. جهادی ها، طالبان، داعشی ها و ستمگران خارجی در قطب اقلیت قرار دارند که ماهیتاً خصم و دشمن زحمتکشان هستند. اینها مأموریتی جز ویران کردن زندگی زحمتکشان ندارند و اگر امروز می بینیم که امارت اسلامی طالبان با دربدر ساختن بیشتر کارگران و زحمتکشان، با زجر دادن آنان، با بیکار ساختن و گدا ساختن آنان زندگی طاقت فرسا و دوزخیی برای کارگران و زحمتکشان رقم می زنند، ادامه همان خصومتی است که فکر و باور تمام بنیادگرایان اسلامی و اربابان خارجی شان را می سازد. نه بنیادگرایی اسلامی، نه «جمهوریت» استعماری و نه ستمگران خارجی، هیچ کدام نمی توانند مسبب رفاه و آسایش کارگران و زحمتکشان باشند.

برابری، دموکراسی مردمی، جمهوریت دموکراتیک حقیقی، رفاه و آسایش برای کارگران و زحمتکشان میسر نیست، مگر از طریق همبستگی و تلاش برای تغییر. کارگران و زحمتکشان، چنانچه گفته شد اکثریت جامعه ما را تشکیل می دهند و نباید اجازه بدهند که اقلیت طفیلی و قاتل بر آنها حکم برانند. اگر حکمی در کار باشد، این حکمِ اکثریت بر اقلیت باید باشد. کارگران، زحمتکشان و سایر فرودستان به حیث اکثریت جامعه باید در جایگاهی قرار داشته باشند که بر اقلیت طفیلی حکم برانند و از منافع اکثریت به دفاع برخیزند. این امر نیازمند همبستگی میان کارگران، دهقانان، اهل کسبه، روشنفکران پیشرو و روشنگر و سایر انسان های متعهد به منافع اکثریت مردم است.

راه نجات کارگران از ستم و تعدی، راه رهایی تمام زحمتکشان از فلاکت و مصیبت و ظلم؛ نه راه طالب است، نه راه جهادی، نه راه تکنوکرات جاسوس و خاین و مزدورچهٔ استعمارگران، بلکه راهی است که با دستان خود کارگران با همیاری سایر زحمتکشان رقم می خورد؛ این راه تنها راه پیروزی کارگران بر ستم و جنایت است.

اول می، روز همبستگی کارگران شکوهمند باد!

# د مرګ د انتظار له سلول څخه



مومیا ابوجمال (امریکایي)، د ۱۹۹۴ کال دسمبر

زه د هغه ناعادلانه حکم پر ضد مبارزې ته ادامه ورکوم، چې زما په اړه صادر شوی دی. شاید بریالی شم یو څه خطرناکې افسانې له مینځه ویسم، هغه افسانې، چې زموږ پر فکرونو تپل شوي دي. د مثال په توګه په محکمې یا زموږ په قضایي پلاوي کې د بې پربتوب له حق څخه د برخمن کېدلو افسانه؛ له خپل ځان څخه د دفاع د حق لرلو افسانه؛ یا اصلاً د یوې سالمې محاکمې د حق لرلو افسانه.

تقریباً دا ټول یې واقعي حقونه نه دي، بلکې د شتمنو او ځواکمنو امتیازات دي. د بېوزلو او نیستمنو لپاره دا د صابون د هغې حباب په څېر دی، همدا چې ورسره

د انسان لاس ولګیرې او وغواړې هغه د ځان لپاره په یو مادي او واقعي شي بدل کړې، چوې.

دا تمه هم نشته، چې رسنۍ دې په دې هکله خبرونه خپاره کړي. رسنۍ هېڅ هم نشي کولای، ځکه چې د رسنیو او حکومت ګټې او همدا ډول د لویو کنسرونو ګټې، چې د دې دواړو د خدماتو له امله په پټنو ودربدلي دي، سره ډېرې نژدې او له یو بل سره غوټې شوې دي.

خو زه کولای شم دا کار وکړم.

**زه به دا کار وکړم، ان که مجبوره ووسم د مرګ تر سیورې لاندې یې تر سره کړم.**

# شلاق ثروت

## از برده گی تا سرمایه داری

جامعهٔ برده گی نخستین جامعهٔ طبقاتی حیات بشر است. مناسبات تولیدی در جامعهٔ کمون، که بر اشتراک جمعی نهاده شده بود، بادرنظرداشت رشد نیروهای مولده جایش را به جامعهٔ مبتنی بر طبقات (برده و برده دار) خالی کرد. اکثریت جامعه به برده گان تبدیل شدند و اقلیت جامعه به مکیدن آخرین قطره های خون بردگان پرداختند. اقلیت طفیلی با شلاق ثروت، مالک جان و تن و زندگی اکثریت برده گان شد. این نیروی جدید کار به زودی، اشتهای طبقه حاکم را برانگیخت و قاچاق برده به یکی از پر سودترین تجارت جهان تبدیل شد.

صدای کشدار تازیانهٔ ستم بردگی را می توان به خوبی در کمر شلاق خوردهٔ «گوردن» که بنام «پیتر شلاق زده» یا «پیتر مستمند» مشهور است، هنوز شنید. گوردن که در سال ۱۸۶۳ از زیر ستم در مزارع پنبه کپیتان «جان لینون» در لوییزیانا گریخت، پس از طی راه های مشقتبار و تحمل رنج های فراوان خود را به مناطق شمالی و به ارتش اتحادیه رسانید.


عکسی از او، که با نام «پشت شلاق خورده» نشر شده، یکی از عکس های معروف جهان است که وضعیت برده ها را در ایالات متحدهٔ امریکا به خوبی نشان می دهد، در کشوری که هنوز هم بردگی مدرن سرمایه داری میلیون ها کارگر و تهیدست را با شلاق سرمایه منکوب می کند.

میلیون ها برده در شدیدترین بهره کشی به تولید ثروت و دارایی برای طبقهٔ برده دار می پرداختند و با جنگ های گلادیاتوری زمینهٔ تفریح این طبقهٔ حاکم را مساعد می ساختند؛ صدها شورش برده گان علیه ستم طبقه حاکم درج تاریخ گردیده و نام نامی سپارتاکوس را نگین مبارزه علیه بهره کشی ساخته است. عظمت این مقاومت و مبارزه را می توان در کمر شلاق خورده گوردن دید، که در هر پیچ و تاب آن شورش و اعتراض به مشاهده می رسد.

نبرد برده ها، آغاز نبرد طبقاتی در تاریخ است. این نبرد برای نخستین جرس آزادی ستمدیدگان از یوغ زجر و ستم نواخت و با خون برده گان فانوس رهایی ستمدیدگان را روشن ساخت.

در جامعهٔ طبقاتی، آزادی در مالکیت بر ثروت و سرمایه است و بنده گی و برده گی در تهیدسی و فرودستی. آنهایی که صاحب مال و منال و سرمایه و ثروت اند، هم آزادی دارند و هم مالکان دموکراسی اند؛ اما در اردگاه تهیدست ها نه آزادیی برای ستمدیدگان وجود دارد و نه دموکراسیی که بر حکم آن بتوانند صاحب مال و ثروت و سرمایه باشند. آزادی واقعی تهیدستان و فرودستان زمانی مسیر است، که سرمایه را از چنگال ستمگران بکشند و به مالکیت جمعی، به مالکیت همه فرودستان تبدیل کنند. نبرد میان این دو اردوگاه، نبرد طبقاتی است که از آن گریزی نیست.

شلاق «دموکراسی» ثروت و استبداد امروز خونبارتر از دوران برده گی بر زحمتکشان و ستمدیدگان فرو می آید. تازیانهٔ چرمی برده گی اکنون به مادر بم ها، بم های خوشه ای، سلاح بیولوژیک و قتل عام های کودکان و زنان و مردان تبدیل شده است، بگذریم از اینکه مالکان وسایل تولید و خدمات و سیستم های تکنالوژی، چه زندگی هایی را که با استثمار به باتلاق نیستی می کشند.



اگر در دوره برده گی، سپارتاکوس با اعتراض خشماگین ناقوس رهایی را به صدا درآورد و میلیون ها برده برای آزادی بپاخاستند؛ در بردگی سرمایه داری کنونی نیز ناقوس های فراوانی علیه ثروت سرمایه به صدا درآمده و به ثمر نشسته است. از نخستین نبرد در کمون پاریس گرفته تا انقلاب اکتبر و انقلاب چین و.... همه، شلاقداران سرمایه را به مصاف طلبیده و بر ویرانی ثروت خصوصی آن، مالکیت اجتماعی بنا کرده بودند.

تاریخ به پایان خود نرسیده، تا سرمایه و کار در کنار هم اند، نبرد این دو کماکان ادامه دارد و به یقین می توان گفت که تاریخ دیر یا زود شاهد کمون های دیگر خواهد بود و شعلهٔ آزادی شلاق ثروت و تازیانهٔ حقارت را خاکستر خواهد کرد.

# د بنسټپالانو له خونړیو منګولو...

بل په آخر تړل شوي او په هماغه موګي شنيږي. د ملي توب لومړنی ستنه، خپلواکي او استقلال لرل او د دموکراتيکو ارزښتونو بنسټيزه ستنه د ولسي پرګنو دموکراتيک حق رعايتول دي، څه چې نه يې بنسټپالان لري او نه يې ګوډاګيان، څه چې نه يې بنسټپالان رعايتوي او نه يې ګوډاګيان، بلکې دواړه د خلکو دموکراتيک حق، ولسي دموکراسي او دموکراتيک ارزښتونه په وينو لړلي او ځپلي دي.

هغوی چې پر ګران هېواد د بهرنيو ستمګرو بمباريو ته اتېونه کول او د بېوزلو انسانانو وژل يې د «دموکراسی» او «جمهوريت» تر نامه لاندې په لېوالتيا بدرګه کول، نه ملي دي او نه دموکرات؛ هغوی چې د بهرنيو جهادي ګوډاګيان ول او يا هم په خپل منځني تنظيمي جګړو کې زرګونه انسانان ووژل، ولوټول او هېواد يې په کنډواله بدل کړ د ملت ضد او د دموکراتيکو ارزښتونو غليمان وو او دي او هغوی چې د اسلامي امارت په چوکاټ کې د امريکې، انګليس، سعودي او پاکستان د پروژې په توګه د ملت پر اوږو سپاره شول او ملت يې قصاص او تر شلاق لاندې ونيو او بيا شل کاله يې ولس په انتحاري بريدونو کې په وينو ولړو او بالاخره د دوحې د قراردادیانو په توګه پر ارګ ونتوتل، هر څه کېدای شي پرته له ملي ځواک څخه.

د يادونې وړ ده، چې هغه وطن پلورونکي خلقيان او پرچميان چې لاسونه يې د ولس پر وينو سره دي او د غلامانو په توګه يې يو ستمګر دولت رهبري کاوه، په هېڅ ډول ملي او دموکرات ګڼل کېدای نشي، په تېره بيا، چې ځينې يې د جهادي ډلو سره د ولس پر ضد ودرېدل او ځينې يې له طالبانو سره او ځينې هم وروسته له بهرنيو ستمګرو سره د ولس چارمارۍ ته ملا وتړله.

خو دا په دې مانا نه ده، چې يوه پديده په خپل ضد بدليدلی نشي. که چېرې هغه خلقيان، پرچميان، جهاديان، تکنوکراتان، طالبان (البته په انفرادي ډول، ځکه په ډله ايز يا سازماني ډول ناشوني بريښي) د خپلو ډلو پر تېرو جنايتونو او خيانتونو اعتراف وکړي او له دې جنايتکارو ډلو سره په ځرګند ډول خپل پرېکون اعلام کړي او پر ملي ـ دموکراتيکو ارزښتونو باور پيدا کړي، بې له شکه د ملي ـ دموکراتې جبهې په پیاوړې کې ګټور تماميدای شي.

### ملي ـ دموکراتان څوک دي؟

له هغه ځايه، چې د افغان ملت ۹۵ سلنه دهقانان، کارګران او نور زيارکښه وګړي جوړوي، نو هغه څوک ملي ګڼل کېږي، چې د دې ستمځپلو انسانانو له منافعو او ګټو ننګه او ملاتړ وکړي. د دې ۹۵ فيصده زيارکښو او بېوزلو وګړو منافع څه ده؟ دهقانان، کارګران او نور بېوزله زيارکښان غواړي په يوه خپلواکه، آزاد او مستقل هېواد کې ژوند وکړي. د هېواد منابع او سرچينې د همدې زيارکښانو په چوپړ کې وي، نه د يو موټي لوټمارو شتمنو په واک کې. د ملت ۹۵ سلنه وګړي د هېواد اصلي واکداران او واکمنان وي، سياسي قدرت د ملت د اکثريت په لاس کې وي او د هېواد برخليک د همدې ۹۵ سلنې وګړو په لاس وټاکل شي. د ملت اکثريت لپاره ملي منافع، يانې د همدې اکثريتو ولسونو د منافعې خونديتوب په مانا ده. دا ۹۵ سلنه افغانان بايد د خپل کور (هېواد) مالکان او څښتنان شي، هر هغه څوک چې د ملت د اکثريت، چې هماغه کارګران، دهقانان او نور بېوزلې انسانان دي، له همدې منافعې او ګټې څخه دفاع او ننګه وګړي يو ملي انسان شمېرل کيږي.

ملي انسان هغه کس ته وايو، چې جاسوس نه وي، هېوادپلورنکی نه وي، لاسونه يې د خلکو په وينو سره نه وي، د ستمګرو لاسپوڅی او ګوډاګی نه وي، له هر ډول ستمګر څخه کرکه ولري او له خپل هېواد او ولس سره مينه ولري. ملي انسان هغه دی، چې د اکثريت ولس تر څنګه ودرېدلی وي، ځکه د ملت اساسي برخه همدا زيارکښه ولس دی نه هغه پينځه سلنه لوټمار او ستمګر خاينان. هر هغه څوک چې د ولس له اکثريت سره مرسته کوي، چې د خپل هېواد څښتن وي، د سرچينو او منابعو صاحب يې وي، د هېواد سياسي برخليک او واک ولس وټاکي، پر ولس او پر هېواد د بهرنيو يرغلونو په وړاندې له ولس سره د ولس د منافعې لپاره ودريږي، هغه ملي انسان ګڼل کېږي. د يو ملي انسان موخه، د ملت د اکثريت ، يانې د کارګرانو او بزګرانو او نورو زيارکښو او ستمځپلو وګړو هوساينه او آزادي ده.

**د دې تر څنګ يو ملي کس بايد دموکرات وي، ځکه بې له دموکراتيک حاکميت او واکمنۍ څخه د ملت د اکثريتو وګړو منافع نشي تامينډلی. د افغانستان معاصر تاريخ په روښانه توګه ښکاره کوي، چې ملي غورځنګونه که له دموکراتيکو ارزښتونو سره مل نشي، بريا يې ناشونې ده. د يو هېواد د ميشتو وګړو استقلال او خپلواکي هغه وخت خوندي پاتې کېدلی شي، چې د دموکراتيکو ارزښتونو پر بنسټ آباد شي.**

### دموکراتيک ارزښتونه کوم دي او څوک دموکرات ګڼل کېدلی شي؟

ولسي دموکراسي د دموکراتيکو ارزښتونو اساسي او بنسټيزه ستنه ده. ولسي دموکراسي هغه دموکراسي ده، چې د ولسونو د مبارزې او زيار او هاند په پايله کې تر لاسه شي، نه دا چې د بي ۵۲ په وسيله راوغورځول شي. هغه دموکراسي، چې ولسونه يې د مبارزې او کوښښ او سياسي تشکل په پايله کې لاس ته راوړي، هېڅ څوک يې له ولس څخه اخيستلی نشي. خو هغه «دموکراسي» چې د «غت غت بمونو» او بي ۵۲ په وسيله راولېږدلې او يا صادر شوي وي د بي ۵۲ له ببرته الوتنې سره سم غوندېږي، څه مو چې ولېدل. د بي ۵۲ «دموکراسي» نه يوازې دا چې د ولس ملاتړ يې تر لاسه نکړ، بلکې د ولس له کرکې او انزجار سره هم مخ وه، ځکه دا «دموکراسي» نه يوازې چې د ولس لپاره نه وه، بلکې د ولس د وينې تويولو، وژلو، لوټلو او پر جونګړو او کورونو يې د بمبار «دموکراتيکه» پروژه وه، دا «دموکراسي» يوازې د يوې کوچنې سلنې هېوادپلورونکو تکنوکراتانو او جهاديانو په ګټه ده، چې په ښکاره توګه د بېوزلو ولسونو په وينو خړوبېدله.

ولسي دموکراسي، څنګه چې پورته ووېل شول د ولس په مټ او بازو تر لاسه کېږي، نه د پروژې په ډول او د خيرات ورکولو له مخې. په ولسي دموکراسي که لوټماران، ظالمان،

←

# د بنسټپالانو له خونړیو منګولو...

ستمګران، ګوډاګیان، ښکېلاکپالي او خاینان نه یوازې دا چې ځای نه لري، بلکې په جدي توګه ځپل کیږي او برعکس یې ولسونه له خپلو ټولو دموکراتیکو حقونو څخه برخمن کېږي. په دی دموکراسۍ کې ولس کولای شي خپله سیاسي اراده پر سیاسي واک تحمیل او واقعي سیاسي آزادیانې تر لاسه کړي، نه دا چې د لوټولو په تور بازار کې د شتمنو د ګټو خوندیتوب لپاره د دموکراسۍ تر نامه لاندې وځپل شي، وغولول شي او قرباني شي.

د دموکراتیکو ارزښتونو یوه بله اساسي ستنه سیکیولاریزم دی. له سیکیولاریزم پرته، ولسي دموکراسي نشي رامینځته کېدلی.

د افغانستان ولس په بېلابېلو دینونو او مذهبي ګروهو وېشل شوي دي. دموکراتیک ارزښتونه دا اړینوي، چې ټول ولس، د دین او مذهب او فرقه ایزه ګروهې پرته د قانون، سیاسي ځواک، فرهنګ، اقتصاد او ټولنیزو چارو په برابر کې یو ډول مقام ولري.دموکراتیکه ټولنه یانې د ګرده ولس ټولنه، بې له دې چې دین یا مذهب یې په پام کې ونیول شي. نو د یوې دموکراتیکې ټولنې د جوړېدلو لپاره یو دموکرات باید په سیکیولاریزم باور ولري او دین له سیاست، قوانینو، پوهې او نورو ټولنیزو او اقتصادي چارو څخه جلا او د هر چا خصوصي کړنه وګني. هر هغه دموکرات، چې پر سیکیولاریزم باور ونلري، هغه یو دروغجن او کاذب دموکرات دی، یو جهادی «دموکرات» دی، چې په اصل کې یو شرمندونکی بنسټپال دی. همدا اوس ګورو چې جهادیان څنګه په درواغو ځانونه «دموکراتان» ګني، داسې «دموکراتان» چې له سیکیولاریزم کرکه کوي او د ناورین په سترګه ورته ګوري.

دموکراتیک ارزښتونه د خلکو د برابرۍ له بهیر سره مرسته کوي، مرسته کوي چې ولسي پرګنې د استبدادي ستم او ظلم څخه وژغورل شي. نو یو دموکرات، د دموکراتیکو ارزښتونو پلی کېدل د هېواد او ولس د ژغورنې لپاره لازمي او اړین بولي او په دې لړ کې بې دریغه هڅه کوي او یا د خپل وس سره سم د دې بهېر له مرستې ډډه نکوي. هغه څوک چې له «نړیوالو» او بهرنیو ستمګرانو څخه دموکراسي او دموکراتیک ارزښتونه غواړي، یا په بله وینا د دموکراسۍ او دموکراتیکو ارزښتونو سوالګري او درویزګري کوي، هغه نه ملي دی او نه دموکرات.هغه د سینګار شوی او خونړۍ «دموکراسۍ» او د «متمدن» استبداد او بلوس یو زرخریده مریی دی.

د دموکراتیکو ارزښتونو یوه بله ستنه په ټولنه کې د مېرمنو ونډه ده. په حقیقت کې د دموکراتیکې ټولنې د دموکراسۍ ترمامیتر، په ټولنه کې د ښځو نقش او رول دی. دموکراتیکه ټولنه نه یوازې دا چې په نرسالارۍ باور نلري، بلکې مېرمنو او سړوو ته د ټولنې د دوو فعالو انساني ځواکونو په سترګه ګوري او دواړه د پرمختګ او تکامل محرک ځواکونه ګني. دموکراتیکه ټولنه،د ټولنې پرمختګ، بریا او تکامل بې د مېرمنو له ونډې ناشونی ګني او هر هغه سیاسي، اجتماعي او اقتصادي او ... غورځنګ او خوځښت، چې په کې ښځې ګډون ونلري، ماته یې حتمي ګني.

د پورتنیو مواردو تر څنګ، یو دموکرات انسان ملي پیوستون هڅوي او د اقوامو تر مینځ د اتحاد او اتفاق لپاره کار کوي. البته د یادونې وړ ده، چې یو دموکرات په هېڅ توګه یو لوټمار، قاتل، ستمګر، جاسوس، نوکر او مریی د هېڅ قوم استازی نه ګني او له ملي پیوستون او د قومونو تر مینځ د اتحاد او اتفاق څخه موخه یې د بېلابېلو قومونو او میلیتونو د زیارکښانو او بېوزلو تر مینځ اتفاق او اتحاد دی تر څو د یوه ځپانده ځواک په توګه خپل تاریخي رول ولوبوي.

**ملي ـ دموکراتان څه کولای شي؟**

یو ملي ـ دموکرات تر ټولو لومړی باید د فرد په توګه خپل نقش ولوبوي. ملي منافعې مشخصې کړي او دموکراتیکو ارزښتونو ته کار وکړي. په خپل کور او ګاونډ کې، په خپله سیمه او ښار کې، په کلي او بانډه کې تل د زیارکښانو له منافعې څخه، چې په حقیقت کې د ملي منافعې یو اصلي او بنسټیزه رکن دی، دفاع وکړي. بې له دې چې د جنایتکارانو قوم او ملیت او ژبه په پام کې ونیسي، د ټولو جنایتکارانو کرغېړن اعمال او کړنې افشا کړي. له هر ډول ستم او بلوس څخه د ولس د خلاصون او ژغورنې ملاتړ وکړي او په دې ډګر فعاله ووسي.لنډه دا چې د آزادۍ غوښتنې په پار ذهنیت جوړونه یو تر ټولو مهم ګام دی، چې یو ملي ـ دموکرات یې باید له خپل ټول توان سره تر سره کړي.

همدا ډول یوه ملي ـ دموکراته ډله یا سازمان باید د پورتنیو مواردو په رڼا کې هڅه وکړي چې له نورو ملي ـ دموکراتو ډلو او سازمانونو او ګوندونو سره، له کوچنۍ مرستې پیل او د یو بل د ملاتړ او حمایت تر څنګ نور کوټلي ګامونه واخلي. مشترک ټکي لا غښتلي کړي او له ګډ سیاسي دریځ نیولی تر مشترکو عملي کړنو پورې د یو بل تر څنګ ودریږي. دا ډلې او سازمانونه، نن به له یو بل سره یوازې څو مشترک ټکي پیدا کړي، سبا به یې غښتلي کړي، بل سبا به مشترک سیاسي دریځ غوره کړي او بالاخره به په یووالي او پیوستون سره په سیاسي ډګر کې خپل رول ولوبوي.

همدا ډول هغه کین سازمانونه، چې پر هېوادپالنې، هېواددوستۍ، ملي منافعو او پر دموکراتیکو ارزښتونو باور لري، تر ټولو لومړی باید پر یوې مشترکې سیاسي ملي ـ دموکراتیکې جبهې کار وکړي. شاید کین سازمانونه د بېلابېلو کړنلارو له امله ونشي کړای ژر په یو سرتاسري او یا په یو سیاسي کین ګوند واوړي. خو پر یو مشترک ملي ـ دموکراتیک کار پانګونه آسانه او مقدوره ده. کین سازمانونه او ډلې کولای شي له کوچنې، تر ټولو کوچنې ګډ ملي ـ دموکراتیک کار څخه پیل وکړي؛ له دې پرته له بېلابېلو «ایزمونو» څخه غړېدل، په خیالاتو کې د افغانستان وروسته پاتې ټولنیزه او اقتصادي بڼه «پانګوالیزه» کول او بیا ورته د «انقلاب» نسخې جوړول، هغوی بابیزو ته پاتې کیږي، چې یو قروتی یې د مجلسونو تودولو لپاره وایي.

کین سازمانونه او ډلې ستر مسئولیتونه او دندې په غاړه لري. له دې څخه یې یوه، په ملي ـ دموکراتیک کار کې سره نژدې کېدل، پر یو ملي ـ دموکراتیک دریځ راغونډېدل او په یوې ملي - دموکراتیکې جبهې کار کول دي. که کین سازمانونه دا ابتکار او خلاقیت تر سره کړای شي، بې له شکه د بنسټپالانو په وړاندې به د یو الترناتیف په توګه راپورته او د ټولنې د رادیکال بدلون لپاره به خورا مثبت او اغیزناکه ګامونه واخیستلی شي.

اینان که کنون تکیه بر اورنگ زدند
در هر قدمی نغمهٔ خون، رنگ زدند
تاریخ نویسان زمان با خطِ زرد
بر تارک یک یک ورق ننگ زدند

# Peshgaam

May 2024 | Political & Analytical | Issue No (3)

## د بنسټپالانو له خونړیو منګولو څخه د ژغورنې لار د ملي ـ دموکراتیکو ځواکونو یووالی دی

افغانان له لسیزو راپدېخوا د فاشیستو بنسټپالانو په منګولو کې کړېږي، د دې کړاو یو لامل، د ملي او دموکراتیکو ځواکونو د ګډې جبهې نشتون دی. همدا بنسټپالان دي، چې کله د جهادي او کله هم د طالب او داعش په جامه کې، د ستمګرو بهرنیو ځواکونو او د سیمې د مرتجعې دولتونو د ښکېلاکګرانه سیاست د پلی کېدلو لپاره ستمځپلي افغانان وژني او ربړوي.

په دې وخت کې د بنسټپالانو درې ډلې، په بېلابېلو کچو افغانان ربړوي. طالبان، جهادیان او داعشیان هغه درې فاشیستي بنسټپالې ډلې دي، چې ټول د بلوسګرو دولتونو مرییان دي. دا درې ډلې د ولسونو د غلیمانو په جبهې کې ځای لري. طالبان، جهادیان او داعشیان، چې ټول مذهبی فاشیستان دي، نه یوازې دا چې د بېوزلو خلکو ګټې تامینولی نشي، بلکې دنده او ماموریت یې د خلکو وژل، ربړول او لوټل دي؛ له همدې سره خپل انګلي ژوند پایي.

نو پوښتنه دا ده چې د بېوزلو ولسونو او پرګنو د ګټو ملاتړي څوک دي؟ په لنډو کې ویلو شوو، چې د خلکو د ریښتنې آزادۍ او هوساینې ملاتړي ملي ـ دموکراته انسانان دي، هغه انسانان دي، چې په برابرۍ او انسانیت باور لري او ستم ځپلو ته هوساینه او آزادۍ غواړي او له ټولنې څخه د ستم او زبېښناک ټولول خپله دنده ګڼي.

**خو چا ته ملي ـ دموکرات ویلی شوو؟**

دا پوښتنه په اوسنیو شرایطو او حالاتو کې، چې یو شمېر کسان ځان ته ملي ـ دموکرات وایي، یوه مهمه پوښتنه ده.

لیدل کېږي، چې د امریکا او لودېځ تېر ګوډاګیان او د سیمې د ځینو هېوادونو لاسپوڅي ځانونه ملي ـ دموکراتان ګڼي او د جمهوریت کوکاري وهي. همدا ډول، جهادیان هم د ملیتوب او دموکرات توب ادعا لري او د «ملي» تر نام لاندې یې ګڼې شوراګانې او جبهې جوړې کړې دي. د دې تر څنګ طالبان هم د اسلام په چوکاټ کې ځانونه د «ملي» منافع مجاهدین ګڼي او داسې نورې ډلې ټپلې هم شته چې ځانونه ملي ـ دموکراتان ګڼي.

خو د بنسټپالانو د بېلابېلو مذهبي ځپلو او د بهرنیو ستمګرو د لاسپوڅو، ملی ـ دموکراتیکه ادعا یوه ابته او بېهوده ادعا ده، چې د ملت د دوکه کولو او د خپلو ګټو د خوندیتوب په موخه یې کوي. څه چې ښکاره ده، مذهبي بنسټپالان او د ستمګرو بهرنیو ګوډاګیان، نه ملي دي او نه دموکراتان؛ټول هغه مرییان او غلامان دي چې د

مخ ۹

## کارگران افغانستان و زندگی طاقت فرسای زیر ستم

طبقه کارگر افغانستان از تهیدست ترین طبقات کشور ما به شما می رود. این طبقه مثل سایر طبقات زحمتکش، با زمامداری ستمگران و قاتلان بیش از پیش در باتلاق نیستی، ناداری، فقر و رنج فرو می رود. در بیست سال اشغال کشور ما بوسیلهٔ امریکا و ناتو و حاکمیت دولت پوشالیِ تکنوکرات – جهادی، کارگران در کنار سایر زحمتکشان فرودست؛ قربانیان اصلی جنگ ستمگرانه بودند.

فاشیست های طالب و داعش؛ کودکان، زنان و مردان این طبقه فرودست را در حملات انتحاری و بم گذاری در شهر ها و شاهراه ها می کشتند، در معادن ذبح می کردند و به رگبار می بستند. چپاولگران مافیایی دولت پوشالی با سرمایه گذاری در معادن زغال، طلا و .... کارگران فراوانی را در زیر تلی از زغال و سنگ دفاع می کردند و جهادی ها از این طبقه برای باندهای تبه کارانهٔ شان سرباز گیری می کردند.

ستمگران ناتویی با پیاده کردن اقتصاد بازار این طبقه را بیش از پیش پراکنده و به ناداری می کشاندند و به بردگان مافیای اقتصادی تبدیل می کردند. با فقر روزافزون طبقهٔ کارگر و سایر زحمتکشان، ثروت در دست عده ای معدودی از چپاولگران، به خصوص جهادی ها، که حمایت بی دریغ نیروهای امریکایی و ناتویی را با خود داشتند، متراکم می شد. کوتاه این که: کشتار، قتل، شکنجه، فقر، ناداری، بیماری، اعتیاد، بیکاری و بلاهایی از این نوع شناسنامهٔ کارگران و زحمتکشان شده بود؛ بگذریم از اینکه خیابان های شهرهای بزرگ با کودکان کار و خانم هایی که شغل شان دریوزه گری بود، پر شده بودند.

در روستاهای کشور فاشیست های طالب و داعش با زجر دادن دهقانان از یک طرف و بمباردمان نیروهای امریکایی و ناتویی بر خانه و کاشانهٔ روستاییان و چاپه های شبانهٔ دولت پوشالی از طرف دیگر، آنان را ناگزیر به فرار به شهر ها ساخته بودند و در شهرها، این دوزخ سوزان برای زحمتکشان، آنها سرنوشتی جز تبدیل شدن به کارگران روز مزد نداشتند.

با این وضعیت دردناک، اکنون که امپریالیست های امریکایی و ناتویی مزدوران ارزان تری را نسبت به مزدوران «جمهوریت» بر اریکهٔ قدرت در ارگ نصب کرده اند؛ در زندگی کارگران، نه تنها تغییر مثبتی بوجود نیامده، بلکه بر فقر و ناداری آنان افزوده شده است. ده ها هزار زن کارگر که در ادارات دولتی و غیر دولتی کار می کردند، از کار رانده شده اند، تقاعد کارگران متقاعد متوقف شده که وضع معیشت آنان را به پائین ترین سطح ممکن کاهش داده، خیابان های شهرهای بزرگ و شهرهای کوچک با کارگران روزمزد پر شده، شمار قابل توجه کارگران به ایران و پاکستان فرار کرده اند و یا هم در صدد فرار هستند

ص ۷